په چا کې چې څلور خصلتونه وي هغه سوچه منافق دی او په چا کې چې له دغو څخه یو خوی هم وي په هغه کې د نفاق یو خوی دی تر دې چې پرې یې ږدي: کله چې خبرې کوي درواغ وایي او کله چې ټرون وکړي ماتوي یې، کله چې وعده وکړي وعده خلافي کوي او کله چې شخړه وکړي کنځلې کوي

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: «دا څلور ځانګړني دي چې په چا کې وي منافق دی، او که له دغو ځانګړنو څخه یوه هم په کې وه، نو د منافقت یوه ځانګړنه به پکې وي تر دې چې پرې یې ږدي: کله چې خبرې کوي، دروغ وایي، کله چې وعده کوي، وفا پرې نه کوي، کله چې شخړه کوي سپکې سپورې وایي، او کله چې ټرون وکړي نو خیانت کوي».

[صحيح دی] [البخاري او مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د څلورو ځانګړتیاوو په اړه خبرداری ورکړی چې که په یو مسلمان کې سره یو ځای شي نو د دې ځانګړنو له امله به له منافق سره ورته والی ولري او دا په هغو کسانو تطبیقیږي چې دا ځانګړتیاوې پرې غالبه وي، او په چا کې چې په نادره توګه وي هغه پکې شامل نه دي، هغه ځانګړتیاوې دا دي: لومړی: کله چې په قصدي توګه درواغ وایي او په خپلو خبرو کې رښتینی نه وي. دویمه: کله چې ټرون وکړي عمل پرې نه کوي او د مقابل لوری سره خیانت کوي. دریمه: کله چې ژمنه وکړي وفا پرې نه کوي، بلکې وعده خلافي کوي. څلورمه: کله چې چا سره شخړه کوي نو شخړه یې ډېره سخته وي او له حق څخه انحراف کوي او ورځخه د منکرېدو لپاره یې چل کوي، او تل باطل او دروغ وایي. نفاق د یو څه ښکاره کولو ته وایي چې خلاف یې پټوي او دا معنی په هغه شخص کې شتون لري چې دا ځانګړتیاوې لري، او منافقت یې د هغه چا په حق کې دی چې خبرې یې ورسره کړي، وعده یې ورسره کړي، امانتدار یې ګرځولی، شخړه یې ورسره کړې او یا یې ورسره کوم ټرون کړی دی، نه دا چې په اسلام کې منافق دی؛ چې اسلام ښکاره کوي په داسې حال کې چې په پټه کافر وي، نو په چا کې چې لدې ځانګړتیاوو څخه یوه وي، د منافق له خویونو څخه به پکې یو خوی وي تر دې چې پرې یې ږدي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66537